# د عبدالله بختاني خدمتګار مکتوباتو تنقيدي جائزه

# A Critical Review of Abdullah Bakhtani's literary works

Hijrat Ullah Karimi*

Dr.Noor Muhammad (Danish Betttani) **

ABSTRACT

*An introduction to Abdullah Bakhtani Khedmatgar: He was born as Abdullah Jan to Mullah Aagha Jan (Aaqa Jan) Tabib in Chahar Bagh-e- Safa (Bakhtan Qala) village, Surkhrood District, Nangarhar Province in 1925. He started his primary education from his parents and then received private education from other scholars. He gained knowledge in religious studies, Jurisprudence, Tajweed, Tafseer, Hadith, Theology, inheritance, Morphology and Syntax, Rhetoric, Lexicology, Wisdom and Logic from the local Madrasahs (schools) of Nangarhar province in accordance with the standard curriculum of Kabul Arabi Darul Uloom and reached the rank of "Malawi". In addition, he also studied Persian and Arabic literature, ancient Medical and mathematics from these local Madrasahs. He also self studied History, Geography, Physics, Chemistry and Biology (according to the standard of baccalaureate), and studied extensively in the fields of Philosophy, Sociology, Politics and Psychology. From 1963-1964, he received a diploma in Language Teaching and Material Designing from Lomonomov Moscow State University and also learned Russian language there.*

Key words: Abdullah Bakhtani, Nangerhaar, lexiology

Literary and Cultural Works/Services:

He has worked as a researcher in the Afghanistan's Academy of Sciences, and has reached the highest rank of Professor. He has also worked as a Faculty Member at the Pashto department, Faculty of Languages and Literature, Kabul University teaching History of Pashto Language. Bakhtani has published 100 books and also some are unpublished. Many of his articles have been published in the various magazines.

In the area of literary letters, a three-volume book (Yaw Dwa Gotee Kaghaz) been published and a collection of letters has not yet been published.

In 2017, he died at the age of 92 years in Kabul and was buried in the village of Bakhtan, Surkhrod district, Nangarhar province.

* Ph.D Scholar Pashto Academy University of Peshawar

** Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar.

عبدالله بختاني خدمتګار پېژندنه:-

نوم يې عبدالله جان دی د ملا اغا جان (اقاجان) طبيب زوے چې په ۱۳۰۴ هـ ش (۱۳۴۳ هـ ق)، ( ۱۹۲۵) د ننګرهار ولايت د سره رود ( سرخرود) ولسوالۍ د چهار باغ صفا د بختان په قلعه کښې زېږېدلی دی.
لومړنۍ زده کړې يې له خپل مور او پلار څخه پيل کړې او بيا يې له نورو استادانو څخه خصوصي زده کړې کړې دي، ديني علوم، فقه، تجويد، تفسير، حديث، اصول+ فقه، اصول حديث، عقايد، ميراث، صرف و نحو، بديع، بيان، معاني حکمت او منطق يې د ننګرهار او کابل په ولسي مدرسو کښې د کابل عربي دارالعلوم د نصاب په معيار لوستي دي او « مولوي» درجې ته رسېدلی دی.
فارسي او عربي ادبيات، پخواني طب او رياضي درسونه يې د هغه وخت د ولسي مدرسو په معيار لوستي دي. تاريخ، جغرافيه، فزيک، کيميا او بيالوژي يې ( د بکلوريا په معيار) په شخصي توګه مطالعه کړې دي. په فلسفه، ټولنپوهنې، سياست او سايکالوژۍ کښې يې پراخه مطالعه کړې ده.
د ژبې د تدريس او درسي موادو تيارولو د ميتود په برخه کښې د مسکو دولتي پوهنتون لومونوموف څخه يې په ۱۹۶۳ - ۱۹۶۴ کښې ډيپلوم ترلاسه کړی او روسي ژبه يې هم په روسيه کښې زده کړې ده. ( 1)
د افغانستان په علومو اکاډمۍ کښې د څېړونکي ( ريسرچر) په توګه يې دنده ترسره کړې چې د پروفيسور درجې ته رسېدلی دی. همدارنګه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې د پښتو تاريخ استاد په توګه هم دنده ترسره کړې ده.
بختاني تر سلو چاپ او يو شمېر ناچاپ اثار او ګڼ شمېر مقالې په ګڼو مجلو کښې چاپ شوي دي.
د خطونو په برخه کښې درې توکه کتاب ( يو دوه ګوټې کاغذ) چاپ لري او د خطونو يوه مجموعه يې لا چاپ نه ده.
په (۲۰۱۷) کال ( ) په کابل کښې د ( 92) کلونو په عمر ومړ او د ننګرهار په سره رود بختاني کلي کښې خاورو ته وسپارل شو.

د ليک پېژندنه:
ليک، تحرير، سند، کرښه، خط، رقعه، لاسليک، دستخط، نښه، علامه، ږيره، حجامت، دا ټولې کليمې د خط د لفظ معنا افاده کوي، په دې ټولو معناګانو کښې د وروستيو دوو معناو ( ږيره، حجامت) نه سوا ټول په هغه مفهوم دي چې دلته زمونږ د بحث موضوع ده.
په اصطلاحي معنا سره ليک وضع شويو نښو يوه مجموعه ده چې په قراردادي او اتفاقي توګه د يوې ژبې د غږونو، وينا او افکارو د انځورولو او ثبتولو لپاره کارول کېږي. (۲)
ليک ( خط) د بشر په تاريخ کښې يو داسې ايجاد دی چې ورسره د بشر تاريخي دوره پيل شوې ده او ليک د نړۍ تر تاريخ وړاندې او تاريخي دورې تر منځ بېلوونکې کرښه ده. (۳)
د ليک له ايجاد سره بشر وکړای شول چې خپلې تجربې، افکار او انديښنې ور پسې نسلونو ته انتقال کړي چې ددغې لېږدونې او انتقال په برکت په بشريت کښې ډېر پرمختګ او ارتقاء را منځته شوه.
د ليک د پيدايښت او لومړني جوړښت په باب د ليک پوهانو تر منځ د نظر اختلاف موجود دی. مذهبي او تاريخي روايات هم يو له بل سره توپير لري، ځينو مذهبي ليکوالو ليکلي، کله چې ادم عليه السلام پر

ځمکه مېشت شو نو لیک ئې هم پیل کړ، تر ادم علیه السلام وروسته د هغه اولادې په خپلو منځونو کښې لیک کارولي دي  او پرله پسې ډول تر اوسه رارسېدلی دی. ( ۴ )

**د لیک تاریخي بهیر**

لومړنی شخص چې لیکل یې کړي دي، ادم علیه السلام دی چې په ګوته یې لیکل کول خو په لومړي ځل د قلم په واسطه ادریس علیه السلام لیکل کړي دي. ( ۵)

جانداد الکوزي په خپل اثر لیک پوهه کښې لیکلي دي چې: لیک او لیکنه د ژبې څخه ډېره وروسته منځ ته راغلي ده او دا هغه وخت دی چې انسانانو په خپل ژوند کښې ډېر پرمختګونه ترلاسه کړي دي، لومړنی لیک د نن څخه تقریباً پینځه زره کاله دمخه منځ ته راغلی دی چې دغه زمانه د انساني ژوند د پیدایښت د زماني په پرتله ډېره لږه ده. (۶)

د لیک د پیداښت په اړه د پینځه زره کالو خبره ډېره کېږي خو پوهنمل زاهدي احمدزي دغو خبرو او نظرونو ته په خپل کتاب کښې دا ډول ځواب ورکوي. دا ځینې د اسلام نه ناخبره په دې عقیده دي چې د لیک تاریخ تر پینځو زرو کلونو لرغونی نه دی، دوی ښایي د غیر اسلامي فلسفیانو پر اثارو باندي په تکیه کولو سره دا خبره کوي، حال دا چې حقیقت داسې نه دی لکه دمخه یې یادونه وشوه په بشري نړۍ کښې د لیک علم پر ځمکه باندي د لومړي بشر حضرت ادم علیه السلام له مېشت کېدو سره سم مېنځ ته راغلی دی، چې په لکونو کلونه پرې تېر شوي دي او زما ددې خبرې شاهد د الله جل جلاله فرمان دی چې په قران کریم کښې یې فرمایلي دي« ولوله» حال دا چې ستا رب لوی کریم دی، هغه رب چې ښوولی یې خط انسان ته په قلم سره، ښودنه یې کړې، انسان ته د هغو شیانو چې پخوا له ښودلو څخه پرې نه پوهېده. ( العلق ۳ - ۴ - ۵ ایتونه) ( ۷)

په هر حال د لیک ( خط) پیدایښت د بشر په ژوندانه کښې د نور هغه کرښه ده چې د جهل توره تیاره یې په رڼا بدله کړه، د انسان لالهانده ژوند ته یې نظم وباښه، انسان د لیک په وسیله وکړای شول چې د خپل عصر او راتلونکي عصرونو او نسلونو له انسانانو سره د زړه خواله وکړي .که ښه ځیر شو بشري تاریخ په خپله پراخه غېږه کښې ډېر مهم لیکونه خوندي کړې دي او ډېرې مهمې تاریخي پېښې د لیکونو ( خطونو) په پایله کښې رامنځ ته شوي دي، د بېلګې په توګه حضرت سلیمان علیه السلام ته د بلقیس د خبرو په اړه د ملا چرګک ( هدهد) صدق معلوم شو نو سلیمان علیه السلام بلقیس ته لیک ولیکه، بیا سلیمان علیه السلام خط په مشکو ټاپه کړ او د خپلې ګوتې مهر یې پرې ولګولو او هدهد ته یې حکم وکړو چې دا زما خط بلقیس او د هغې قوم ته یوسه او حاضر مجلس کښې ورته وغورځوه او ته یوې ډډې ته پټ کېنه او انتظار کوه چې د دوی ځواب څه دی؟

ددې لیک ( خط) ټول تفصیل د قران پاک په سورت النمل کښې په واضحه توګه بیان شوی دی.

د اسلام مبارک دین ستر استاځی ( پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم) د خپل پیغام د خورولو لپاره هم د لیک له وسیلي کار واخیست، د پارس، روم، حبشي او نورو هېوادونو مشرانو ته یې بلنلیکونه ولیکل او د اسلام دین منلو ته یې راوبلل. ( ۸)

په نړۍ کښې د ګڼو شخصیتونو تر منځ د خطونو تبادله شوې ده.

د صوفیانو او اولیاء کرامو هغه رقعات هم ډېر د عقیدت وړ دي کوم چې هغوی خپلو مریدانو او عقیدتمندو ته د هغوی د مختلفو تپوسونو په ځواب کښې وخت په وخت لیکلي دي.

د مکتوباتو یا رقعاتو لیکلو دا قسم نوعیت او اهمیت د اتلسمي صدۍ عیسوي د اختتامه پورې وو، په نولسمه صدۍ کښې چې کله د یورپ په ټولو ادبي اصنافو کښې یو فکر انګیز بدلون راغی، د فرضي قیصو او خیالي داستانونو په ځای جدید ناول، ډرامه او مختصره افسانه عام شوه، نو ددې سره د خط

ادبي مقام ته هم د ليکونکو پام راوګرځېد، د ادب پوهان دې نتيجې ته ورسېدل چې خط يوازې دا نه چې پيغام رسانی ذرايع او د معاشرتي علومو آينې دي بلکې په دې کښې د خپل وخت د تهذيب و تمدن، تاريخ او ثقافت سره د ډېرو خلکو د ژوند حالات او واقعات هم وي کوم چې ځانله يو تاريخي او ادبي حيثيت لري او محفوظول يې په هر حال پکار دي، ددې احساس پيداکېدو سره په يورپ کښې په دې باقاعده طور کار شروع شو، د ناول، ډرامې، مختصرې افسانې او راپور تاژ غوندې هم د ادب يو صنف وګرځيده، په دې وجه هلته په دې لړ کښې بې حسابه خيالي او فرضي خطونه وليکلی شول. په پښتو ادب کښې ددې قسمه خطونو مثال د سيد تکريم الحق کاکاخېل روغ ليوني خطونه د « بې بې نوره» په نوم چاپ دي. ( ۹)

همدارنګه عبدالروف بېنوا « د زړه خواله» او د عبدالله الهام جمالزي ( سلامونه، داستاني ليکونه) يادولی شو.

په نړۍ کښې د ګڼو شخصيتونو تر منځ ليکونه تبادله شوي دي .د بي بي سي نړيوال تلويزون د خبر له مخې د برېتانيا هېواد د ټيټانيک کښتۍ يوې سورلۍ ليک اوس پيدا شوی چې په سلګونو زرو ډالرو قيمت لري، همدغه وه چې په ادب ښې هم د ادبي ليکونو ( خطونو، مکتوباتو) په نوم ليکونه دود شو چې په نظم او نثر وليکل شو. ( ۱۰ )

ليکونه ( مکتوبات، خطونه) د ليکوالی د يو ځانګړي فورم په توګه د ښې له مخې په دوه سترو برخو ببليږي:-

**رسمي يا اداري ليکونه - شخصي ليکونه**

الف:- رسمي يا اداري ليکونه: هغه دي چې معمولاً په رسمي ( دولتي، سرکاري) او ازادو ادارو يا موسسو کښې د بېلابېلو مقصدونو، غوښتنو، پوښتنو، پوهوني، را پوهوني او نورو ملحوظاتو له پاره ليکل کېږي، مهمې برخې يې غوښتنليک ( عريضه، درخواست) مکتوب، پيشنهاد، استعلام.

ب:- شخصي ليکونه: هغه دي چې د وګړو تر مينځ د بېلابېلو علايقو، اړيکو او اړونديو له مخې د ډول ډول مقصدونو، موخو او افکارو د تبادلې لپاره ليکل کېږي چې تر ډېره پکښې د ليکونکي شخصي ذوق دخيل وي. ( ۱۱)

ادبي ليکونه ( مکتوبات، خطونه) هم د شخصي ليکونو ( خطونو، مکتوباتو) په ډول پورې اړه پيدا کوي، ادبي ليکونه ( خطونه، مکتوبات) هم د نورو نثري ژانرونو ( لنډه کيسه، ناول، ډرامه، رومان، طنز، ادبي ټوټه...)

په څېر کوټلي او د ټولو له خوا منلې پېژندنه نه لري، ادبي څېړونکو يې د پېژندنې لپاره ليکنې فورم ( شکل) او ځانګړنو ته په کتنې يو لړ تشريحي څرګندونې کړي چې دلته به يې د څو يادونه وکړو، ليکوال او محقق حبيب الله رفيع يې دا ډول را پېژني:

ادبي ليکونه د هنري ادب يو بل ژانر دی چې په خاص سبک او ډول په مطالبو رڼا اچوي. ( ۱۲)

سيد تقويم الحق کاکا خيل ( ادبي ليکونه، خطونه) داسې را پېژني: هر سړی خط ليکي ليکن هر سړی ښه خطونه نه شي ليکلی، د يو اديب خط صرف د کاتب او مکتوب اليه تر منځه راز نه وي په هغه کښې د ژوندانه ډېر رازونه وي او د ژوندانه رازونه د يو کس ملکيت نه وي، هغه چې څنګه په يو تېرېږي دغسې په هر يو تېرېږي، د خط دې حيثيت ته ډېر وروسته د خلکو فکر شو او د لويو لويو بزرګانو، عالمانو، صوفيانو او اديبانو خطونه په کتابي شکل شايع شول.(۱۳)

څېړنوال سيد محی الدين هاشمي يې په اړه وايي: ادبي ليکونه هغه ليکونه دي چې پکښې ټولنيز، سياسي، تاريخي، اخلاقي، انتقادي او انتباهي مسايل په ادبي ژبه انځور يا وړاندې کېږي. (۱۴)

حسن انوري ایراني لیکوال د مقدماتي آئین نګارش په نامه اثر کښې د ادبي لیکونو په باب داسې څرګندونې لري: (( ادبي لیکونه هغه دي چې ادبي ژبه پکښې کارول شوې وي د روحي حالت او عواطفو له بیانولو څخه نیولې تر هر ډول علمي، ادبي، تاریخي او نور ډول ډول مسایل پکښې مطرح کیږي، دا د یو لیکوال په هنر او ذوق، ژور درک، ذهانت او د ظرافت په اندازې پورې اړه لري چې کولی شو دغسې بڼکلي او په زړه پورې لیکونه تخلیق یا را مینځته کیږي. (۱۵)

ددې ټولو تعریفونو څخه معلومیږي چې ادبي لیک ( خط، مکتوب) د عادي لیکونو ( خطونو، مکتوبونو) په څېر معلومات نقلوي خو ددغو خطونو په لیکلو کښې د لوړې املا او هنري نثر څخه ډېره ګټه اخیستل کیږي چې په دغه برخه کښې د لیکوال ذوق، تخیل، عاطفه او نور شاعرانه توکي، ذوق په څپو راځي او تخلیق کوي.

ادبي لیکونه ( خطونه، مکتوبات) په منظومه او منثوره بڼه لیکل شوي او پیداشوي دي چې ادب پوهان ددغه منظوم او منثور ادبي لیکونه په دوه سترو برخو بېل کړي دي.

۱ـــ هغه ادبي لیکونه چې ځانګړی مخاطب نه لري او د فرضي مخاطب په نامه لیکل شوي دي، لکه د روغ لیوني بي بي نوره - عبدالروف بېنوا د زړه خواله.

۲ـــ هغه ادبي لیکونه چې ځانګړی مخاطب لري او د هغه په نوم استول شوي دي، لکه د حمزه شینواري ګوتې قلم ته په ژړا شوې د طاهر افریدي په نامه باندې، یا د بختاني خدمتګار درې توکه مکتوبات « یو دوه ګوتې کاغذ».

دغه ادبي لیکونه چې په نثر لیکل شوي منثور ادبي لیکونه او چې په نظم لیکل شوي وي منظوم ادبي لیکونه بلل کیږي.

په پښتو ادب کښې د ادبي لیکونو « خطونو» پیل له لرغوني او ادبي دورې څخه په منظومه بڼه شوی چې رضي لودي خپل تره زوی نصر لودي ته خط په منظومه بڼه لیکلی وه چې نصر لودي بیا ددغي خط ځواب په نظم ورکړی دی.

له دې وروسته د بایزید روښان د خطوطو ذکر راځي چا چې د کامل پیر دعوه کړې وه او د خپلو مریدانو په لاسونو جلال الدین اکبر او نورو شخصیتونو په نومونو خطونه لیږلي وو چې پکښې ټینګار شوی وه چې په هره زمانه یو کامل پیر وي او دده کامل پیر، پیر روښان دی چې ورسره بیعت کول لازم دي، پیر روښان ( بایزید انصاري) د خطونو پته نشته چې په پښتو ژبه وه او که په فارسي ژبه، لیکن هغو شخصیتونو په نومونو چې خطونه لیکل شوي دي ترې معلومیږي چې په فارسي لیکل شوي او ددغو خطونو کوم یاداشت نشته.(۲۱)

له دې وروسته د خوشحال ختټک او دده د کورنۍ منظوم ادبي لیکونه کښلي دي چې یودخان خپل زوی بهرام او بل یې د بازید خان په ځواب کښې په منظوم ډول دی.

بل منظوم ادبي لیک خوشحال خان ته دده مشرې مېرمنې ( توتیا) زندان ته وراستولي دی.

په معاصره ادبي دوره کښې خطونه د ډېرو علمي ادارو، مجلو، ورځپاڼو او مشهورو لیکوالو، شاعرانو په نوم راغلي.

همدارنګه د تعلیمي لیکونو، د لیکونو لارښودونه، عادي او ادبي لیکونو ګڼ شمیر کتابونه لیکل شوي او چاپ شوي.

مولوي نقیب احمد ( انشاء پښتو) قاضي رحیم الله خلیل ( مکتوبات افغاني) محمد ګل نوري ( پښتو لیک ښوونکی) عبدالمنان دردمند ( پښتو لیکونه) حبیب الله رفیع ( لیکونه، سرلیکونه) نجم الرحمن مواج ( نوې لیک لیکنه).

ادبي ليكونه = سيد تكريم الحق كاكاخېل روغ ليونى ( بي بي نوره). د پوهاند محمد حسن كاكړ ژباړه ( د ګورګى ادبي ليكونه)
عبدالروف بېنوا ( د زړه خواله)، حمزه شينوارى، جعفر اڅكزى ( انسان او خداى)، طاهر افريدى ( د حمزه بابا خطونه ګوتي قلم ته په ژړا شوي). ډاکټر سيد جراغ حسين شاه او حمزه بابا خطونه ( ژوندي خطونه)
عبدالرحمن لوګى كاكاخيل ( مكتوبات حمزه بابا)، محمد همايون هما ( د حمزه شينوارى خطونه د همايون هما په نامه)، پردل خان ختک ( د مولانا عبدالقادر خطونه)، پوهاند صديق الله رښتين( ادبي ليكونه)، د باچا خان ليكونه.
(ادبي ليكونه) عبدالروف قتيل خوږيانى، فرهنګي مينه - ليكونه ديدونه په ورځ مجله كښي خپاره شوي ليكونه، محمد اسلام ارماني( خط مي راغلى د جانان دى)، عبدالله الهام جمالزى ( سلامونه، داستاني ليكونه)، ظفرالله بخشالى د فضل رحيم ساقي خطونه ( لومړى ټوک)، حاجي سيد عبدالرحمن لوګى كاكاخيل ( زه او حمزه)، عبدالله بختانى خدمتګار ( يو دوه ګوتي كاغذ) درې ټوکه، صاحبزاده حميد الله ( ما به و يار ته سلام وركړاى)، د عبدالولى خان د پروفيسور جهانزيب په نوم ليكونه ( سوغات)، ميا خيرالحق د خطونو مجموعه( غوره ليكونه)، ( د پيغمبر ص خواږه ليكونه) ليكوال منصور احمد ، ژباړه نجيب الله جالب.
د مولانا ابوالكلام ليكونو مجموعه( غبار خاطر) مولوى زين الله منلي ژباړلى.(۲۴)
ددغه كتابونو سربېره ځيني داسي كتابونه هم چاپ شوي دي چي د يو شخصيت په ژوند او ادبي هڅو ليكل شوي دي خو كتاب كښي يي ليكونه ( خطوط) هم خوندي كړي دي. همدا راز ځيني كتابونه د ليكونو په بنسټ ليكلى شوي دي لكه:
_ د عبدالروف بېنوا درې ټوکه ( اوسنى ليكوال) ادبي تذكره.
_ د عبدالله بختانى خدمتګار د اجمل ختک په ژوند او فن ليكلى شوى كتاب ( رنګين غوندې عذاب) چي د دوارو ليكونه پكښي خوندي دي.

ليكونه ( خطوط) خواره واره په افغانستان او كوزه پښتونخوا كښي پښتو مجلو او جريدو كښي خپاره شوي او خپرېږي لكه: پښتون، زيرى، كابل، اتحاد مشرقي، نن پرون، ژوند، عدل، هيواد، رهبر، جمهوريت، ګلستان، ننګيالى، وږمي، قند، دوران، خپلواک، كندهار، غنچې، ننګرهار، پلوشه، تلوسه، تماس، مرام، شمشاد، ناموس، مركه، ښكلا، انګازه، مسلمان، ګهيځ، پيوستون، بدلون، ليكوال، درخانى، همدرد، انځور، تاتره، جرس، لار، اسلم، په دغه پښتو مجلو كښي ليكونه خپاره او چاپ شوي دي. (۲۶)
همدا ډول د ليكوالو سره ډېر شمېر ناچاپ ليكونه چي ورسره خوندي دي كه چاپ شي نو ډېر شمېر نوري مجموعي به ترې لاس ته راشي. (۲۷)

مخكي مو هم د ادبي ليكونو د كتابونو په پېژندنه كښي د بختاني د ليكونو د كتابونو يادونه وكړه اوس به يي دلته تفصيلي وړاندي كړو:
يو دوه ګوتي كاغذ ( مكتوبات خدمتګار) د عبدالله بختاني خدمتګار د ليكونو ۳ درې ټوکه كتاب دى چي په « ۱۲۶۲» مخونو كښي د لړليكونو، لاسي خطونو او نورو ليكونو پرته د افغان مسلكي مطبعي كابل څخه په «۲۰۱۰» كال د زرو ټوکو نو په شمېر د جمال ناصر پرهيز په مالي لګښت په ښكلي صحافت چاپ شوى دى.
دغه خطونه د بختاني او نورو خلكو تر منځ تبادله شوي دي چي پكښي ادبي، سياسي، اجتماعي او نورو

ګڼو موضوعاتو یادونه شوې ده چې پکښې د کوزې پښتونخوا سهیلي پښتونخوا، د افغانستان داخل کښې او د نړۍ نورو برخو سره اړیکې ساتل شوي دي.

**د خدمتګار د مکتوباتو موضوعاتي جائزه**

مخکې د خطونو د پیژندنې، شالید په اړه هر اړخیزې خبرې وشوې، دلته د خدمتګار د مکتوباتو په موضوعاتي برخې بحث کیږي، بختاني خدمتګار ګڼ شمیر مکتوبات د ګڼو ادیبانو سره تبادله کړي دي چې غټه نمونه یې د هغه دریې جلده کتاب(د خدمتګار مکتوبات،یو دوه ګوتي کاغذ)دی له دې ور اخوا د هغه ګڼ شمیر نور خطوط هم په مختلفو کتابونو، مجلوکښې چاپ دي.

په دغو مکتوباتو کې خاطرې، راپور تاژ، ادبي توټې او سفرنامه ډوله لیکنې او په ټوله کښې د ادبي موضوعاتو په اړه تیوري او بحثونه شامل دي چې د بیلګې په توګه د دوه ادبي لیکونه کتاب چې په ځانګړې ډول هم چاپ شوی دی چې یوخط د نثر او بل د نظم په اړه دی ګټور او تیوریکي بحث دی اوس به د دریواړو جلدونو هغو خطونو موضوعات په لنډ ډول ذکر کړو چې استاد بختاني په پښتو ژبه لیکلي او مخاطبینو ته وراستولي دي، خدمتګارپه دري ژبه هم ډېر خطوط لیکلي دي چې دې مقالې کښې دري خطوطو په اړه خبرې نه دي شوې.

دلته به دخدمتګار له مکتوباتو نه د نمونې په توګه د ځینو یادونه وکړو،چې په بیلابیلو وختونو کې یې له بیلابیلو لیکوالو ، ادبي او فرهنګي اشخاصو سره یې تبادله کړي دي.

لومړی ټوک: دا هغه لیکونه اومکتوبات دي چې خدمتګار له بیلابیلو لیکوالو او دنظر خاوندانو سره د اړینو موضوعاتو په اړه لیکونه تبادله کړي دي:

۱-په(۲۹-۳۰)مخونو کښې استاد ګل پاچا الفت ته مکتوب دی چې په اتحاد مشرقي جریده کښې تنقیدي مضامین ځای کړل شي.

۲-په(۳۲-۳۵)مخونو کښې استاد ګل پاچا الفت ته د پښتو کورسونو باره کې مکتوب دی.

۳-په (۱۴۸)مخ کښې بختاني د قیام الدین خادم څخه په مکتوب کښې د (ی )په اړه پوښتنه کړې ده او په (۱۴۹)مخ کښې مولانا خادم ځواب ورکړی دی.

۴-په (۲۹۲)مخ کښې د ملنګ جان په نوم منظوم خط دی چې توشیح صنعت هم پکښې راغلی دی.

۵-په (۲۴۰-۲۴۲) کښې د پښتو ټولنې رئیس ته مکتوب دی چې د ادبي او ژبنی موضوعاتو څېړلو په اړه خبرې شوې دي.

۶-په (۲۵۰-۲۵۴)مخونو کښې د عدلیې وزیر سید شمس الدین مجروح په نوم خط لیکلی چې د اساسي قانون جوړولو په اړه یې رغنده وړاندیزونه کړي دي.

۷- په (۵۸۸) مخ کښې محمد داود شهید ته مکتوب دی چې د هغه د مور میرمن محوي قادري چې پښتو شاعره وه، د ژیږېدو نېټه، شعر نمونه،عکس،د شعرونو مجموعه غوښتې چې په زیری جریدې او پښتانه شعراء کې یې د چاپ اراده لرله.

۸- په (۶۷۹-۶۸۲) مخونو کښې خان عبدالولي خان ته مکتوب دی چې د غني خان د مړینې تعزیت کوي او د هغه په ادبي ژوند، مقام، شاعرۍ په زړه پورې لیکنه ده، ډېر د هنر څخه ډک مکتوب دی

۹- په (۷۳۲) مخ کښې د زلمي هېوادمل په نوم خط دی چې د حال احوال ،وطن حالاتو علاوه د اجمل خټک په چاپ کېدونکي کتاب په یوه لیکنه کښې د غلطۍ د تصحیح خبره شوې چې په (سنو)کښې غلطي راغلې وه.

۱۰- په (۷۶۵) مخ کښې د فضل ولي ناګار د ننګرهار ورځپاڼې مسوول مدیر ته خط دی چې د ننګرهار د چاپ په اړه معلومات غوښتي او د معتمدصاحب په مړینې (د جنتي وړور یاد) ترسرلیک لاندې مقاله لیکلې او لیکنې که یې د نشر وړ وي چې چاپ شي او ډېر شمېر ګڼې یې راواستول شي ترڅو یې د هغه په څلویښتی پروګرام کښې وویشي.

۱۱- په (۷۷۲-۷۷۳) مخونو کښې د سید محي الدين هاشمي په نوم خط دی چې د کتاب پروف تیار شو نو په زاړه ادرس یې راولیږه همدارنګه د میا حمد الله فقیر خیل دېوان استولو او د څو عکسونو (تصویرونو) خبره هم شته چې باید چاپ شي.

دریم ټوک چې ۱۲۶۲مخ پورې صفحې د خدمتګار نور ډېر خطونه هم لري چې د لیکنې د اوږدېدا په خاطر ترې صرف نظر وشو.

په ټوله کښې په دغو خطونو کښې د ادبي موضوعاتو، د کتابونو د چاپ، طباعت او چاپي موضوعاتو په اړه موضوعاتو تبادله شوې، چې موږ یې له ټولو لیکونو څخه د بیلګې په توګه د ځینو یادونه وکړه له دې ور اخوا، ده ته را استول شوي خطونه هم د لوړ ادبي موضوعاتو او پانګې څخه برخمن دی، د ډېرو خطونو ژبه خورا خوږه او ادبي ده چې د ادبي خطوطو یو ستر خصوصیت بلل کېږي.

اوس به یې دلته د نمونې په ډول د یو مکتوب بېلګه وړاندې کړو.

ننګرهار - سوررود بختاني کلی

د ۱۹۹۶د مارچ۱۷مه

ګران او محترم مشر خان عبدالولي خان، محترم پروفیسور عبدالعلي خان او د فخر افغان بابا د کورنۍ ټولو درنو غړو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته.

په ډېر تاسف د خان عبدالغني خان له وفات نه خبر شوم. نو د ځان خپلې کورنۍ، عزیزانو، د دې ځای د خلکو، ادیبانو، شاعرانوله خوا، نوموړي ته د الله پاک له درباره بخښنه او تاسو ته صبر، اجر، خیراو برکت غواړم.

که څه هم له غني خان سره، زما او د دوی په ټول ژوند کښې، له دوو څلو لنډو ملاقاتونو نه زیات ،د مصاحبت نور فرصتونه نه دي میسر شوي، مګر د فخر افغان بابا د صحبتونو، د غني خان د اثارو او د نورو لیکوالو د لیکنو له مخه، زه هغه د ځوانۍ له اغاز نه د ژوندانه تر انجامه پورې ښه پېژنم ،د هغه له کارونو خبر یم، د هغه له اثارو او افکارو سره پوره اشنا یم او راباندې ډېر ګران دی. خدای دې وبخښې!

هغه د ځوانی په مستو کلونو یا د مستۍ په ځوانو دورونو کښې، د خدایي خدمتګار د تحریک فعال او صادق غړی پاته شوی او په دم، قدم، قلم او درهم یې د دې ډلې د ارمانونو د ترسره کېدو په لاره کښې د ایثار او قربانۍ ترسرحده پورې مخلصانه خدمت کړی دی، تل یې په خپلو غوره رنګینو نظمونو او فلسفي - طنزي نثرونو د پښتو پرمختلونکي ژوندي ادب پانګه زیاته کړې ده او پښتون اولس او د نړۍ زېلو اسیرو انسانانو ته د خلاصون، نجات خپلواکۍ او ترقۍ د لارې د سمولو لپاره زیار ایستلی دی او دا ځکه چې خدایي خدمتګاري د خدای د ټولو مخلوقاتو بې عوضه خدمت دی.

کله چې نوموړي خان له سیاست نه لاس واخیست بیا نو خپل ټول عمر یې د ادب او هنر د ګلبڼ د ښکلو ګلونو په مالیارۍ تیر کړ.

د خوشحال، رحمان،حمید او حنان د شاعرۍ په ګلستان کښې یې د هومر، عمربن الفارض، عبید زاکاني، خیام او پوشکین د هنري ګل غنچو ورمې وچلولې.

هغه پښتون و، نو په پښتو کښې یې ډیراعلی شعرونه ولیکل.

هغه په خپل تاریخي هیواد مین شاعرو، نو یې د وطن د مینې ترانې وویلې، خپل پښتو ملي شعر یې د بشردوستۍ (هیومانیزم) په روح ژوندی کړ او لوړې پوړۍ ته یې وخیژاوه.

مګر افسوس! د پښتنو نه ښوک و او نه شته، د دغه توریالي قوم د مټ او بازو زور زیاتره د نورو د ګټې لپاره چلیدلی او استعمال شوی دی. تاریخ ثابته کړه چې دې تورزن قوم، کله ځان ارم کړی دی، نو دنیا یې خوځولې او لړزولې ده، مګر په نتیجه کښې، پخپله بیا د هماغې خوځیدلی لړزیدلې دنیا د مکارې بوډۍ ناوې تر ناولو ښپو لاندې خوارو زار پاته او چین پیت شوي دی. دې قوم تل توره چلولې ده او قلم نه.

د احساساتو په سمندر کښې یې ځان لاهو کړی او ډوب کړی دی او د علم له دریاب نه یې ګوټ اوبه نه دي ښښلي نو ځکه لوړ فرهنګي استعدادونه یې د خدای بخښلو الفت، بینوا، خادم، حمزه او غني خان په شان د تورو خاورو خوراک شوی دی.

که داسې نه وای او په دې قام کښې، فکراوقلم، پوهه او تدبر، ادب او سیاست وای او بیا یې خپل فرایض ادا کړي وای او د قام دانشورانو ادیبانو د استادو شاعرانو اثار په پراخ ډول د بهرنۍ دنیا په نورو ژبو ترجمه او خپاره کړي وای، بیا نو ښایي غني خان غوندې شاعران د پښتو د لویو شاعرانو په توګه نه، بلکه د نړۍ د شاعرانو د لومړي صف ممتازې ښېرې ګڼل شوي وای او د «لوټس» او «نوبل» په شان ادبي جایزې به یوازې د:

ای زما وطنه د لعلونو خزاني زما! -
په شان ترانو د نظر ماتي لوګي کېدل -

خو بیا هم افسوس!اوس هم په ځان خبر نه یو، تخریبوو او د فنا په سیند کښې د لاهو کېدو په لومړنیو کارتونو کښې ډوب یو!

خیر په هر صورت.

دا دستور دی چې څوک مرګ ته نژدې شي، نو«وصيت» کوي، غني خان خو لا د ځوانۍ له وخته خپل وصيت پيل کړی دی.

که خازې شنې مې په قبر وي ولاړې .....

او هم رواج دی چې د مړي د فاتحې په تېغر چې خلک ناست وي، نو ما غوندې ځينې زاړه او اوزګارخيل، د متوفی د متروکاتو او يا هغه پسې د خيراتونو او صدقاتو په باب د مړي وارثانو ته «نصيحت»کوي، زه خو ځان د غني خان د فاتحې په تېغر ناست احساسوم، مګر ځان د نصيحت کولو جوګه نه وينم نو ددې لپاره چې «عريضه تشه پاته نه شي»وايم:

درنو خواخوږو سپين روبو مشرانو!

زه خو په دې مقام کښې، کوم«نصيحت»نه لرم، پخپله د غني خان وصيتونه او متروکات، نظم او نثر، د پېيلو او ناپېيلو مرغلرو په ارزښت، لاډېر دې هغه راټول او خپاره کړئ.

د زړه سرو ځوانو دانشورانو!

تکړه شئ! د غني خان د «وصيت» د لړۍ ځينې ځينې برخې، د هغه د نثر او نظم شهپارې او شهکارونه، په ادبي شاعرانه ستايل د نړۍ په نورو ژبو ترجمه، خپاره او د هغه له ژوند ليک او آثارو سره دنيا آشنا کړئ! دا ډېر دروند،ګران، ظريف او شريفانه کار دی،د شاعر ارمان دغه دی، زيات ارزښت لري.

په پای کښې يو ځل بيا غني خان ته د مغفرت او تاسو ټولو ته د اوږده، باثمره ژوند او همت دعا کوم. والسلام.

ستاسو خدمتګارعبدالله بختانی ( ۲۸)

حوالې


۱_ احمدزی،څېړندوی محمد آصف. د بختاني خدمتګار فرهنګي خدمتونه، د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز کابل،شمشادهاشمي مطبعه۱۳۹۶ل۲۰۱۷ع،۱۲مخ
۲- شبرزاد، پوهاندمحمداقا،ليکوالي. جهان دانش خپرندويه ټولنه کابل ۱۳۹۵ل ۲۰۱۶ع،۱۸۸م
۳-رفيع، حبيب الله. ليکونه سرليکونه.ګودر خپرندويه ټولنه جلال اباد ۱۳۸۸ل،۲۰۰۹ع،الف مخ
۴- يون، پوهنوال محمد اسماعيل،د ليک تاريخي بهير، کابل مجله - دريمه دوره لسمه يوولسمه ګڼه. کابل علومو اکاډمي ۱۳۹۳ل،۲۰۱۴ع،۲۴مخ
۵- زاهدي احمدزی، پوهنمل جان محمد. د اسلامي اندود په رڼا کښې د ژبو او ليک د پيدايښت تاريخ، د

اخلاص جریدې اداره پېښور ،۱۳۷۷ل،۱۹۹۸ع،۹۹ او ۱۰۰مخونه.
۶_ الکوزی، جانداد، لیک پوهه، پوهنې وزارت کابل تربیه معلم،۱۳۸۹ل،۲۰۱۰ع، ۸ مخ.
۷- زاهدي احمدزی، پوهنمل جان محمد،د اسلامي اندود په رڼا کې د ژبو او لیک د پیدایښت تاریخ، د اخلاص جریدې اداره پېښور،۱۳۷۷ل،۱۹۹۸ع، ۹۹مخ.
۸-شېرزاد، پوهاند محمد اقا،لیکوالي. جهان دانش خپرندویه ټولنه کابل ۱۳۹۵ل،۲۰۱۶, ۱۸۹ او ۱۹۰ مخونه
۹- رحیم، رحیم شاه، یادګارخطونه، خط مې راغلی د جانان دی، لیکوال محمد اسلام ارماني، یونیورسټي پبلشرز،۲۰۰۸ع. ۱۹- ۲۰ او ۲۱ مخونه

۱۰_ کریمي، هجرت الله، د پښتو ادبیاتو په معاصره ادبي دوره کې د ادبي لیکونو د بهیر څېړنه (ماسترۍ تېزس) ننګرهار پوهنتون،۱۳۹۶ل،۲۰۱۷ع،۱۰ مخ
۱۱-هاشمي،څېړنوال سید محي الدین،د نثري ادب ډولونه،وحدت خپرندویه ټولنه ۱۳۸۹ل،۲۰۱۰ع،۳۴۹مخ
۱۲-هاشمي،څېړنوال سید محي الدین، د لیکوالۍ هنر، میهن خپرندویه ټولنه جلال اباد ،۱۳۹۵ل،۲۰۱۶ع،،۱۵۴مخ

۱۳- کاکاخیل، سید تکریم الحق، بي بي نوره. رحمان نیوز ایجنسي محله جنګي پېښور،۱۹۵۸ع،۲۳۷مخ

۱۴- شېرزاد، پوهاند محمد اقا، لیکوالي، جهان دانش خپرندویه ټولنه، کابل۱۳۹۵ل،۲۰۱۶ع،۲۲۲مخ

۱۵-هاشمي، نثري ادب ډولونه ۳۵۱مخ

۱۶-هاشمي، نثري ادب ډولونه ۳۵۴مخ

۱۷-افریدی، طاهر،ګوتې قلم ته په ژړا شوې، جرس ادبي جرګه کراچۍ،۱۹۹۴ل،۸ او ۹مخ

۱۸-خټک، پردل خان، مولانا عبدالقادر خطونه، پښتو اکیډمي پېښور،۱۹۸۳ع،۲۶مخ

۱۹-هاشمي، نثري ادب ډولونه، ۳۵۷ مخ
۲۰- میاخیل، پوهنوال ببرک،لیکوالي، ختیځ خپرندویه ټولنه جلال اباد ۱۳۹۶ل،۲۰۱۷ع،۷۶ مخ
۲۱_خلیل، حنیف، پشتو زبان و ادب کے تاریخ، ادب محل شوې تاور کابلی بازار پشاور ۲۰۲۱مارچ،۳۷۹مخ
۲۲_ کریمي تېزس، ۳۲ مخ

۲۳-خلیل، حنیف، پشتو زبان و ادب کے تاریخ، ۳۷۹ او ۳۸۰ مخونه
۲۴_ کریمي تېزس، ۵۷ - ۵۸ - ۵۹ مخونه
۲۵_ خلیل، حنیف، پشتو زبان و ادب کے تاریخ، حنیف خلیل. ۳۸۱ - ۳۸۲ او ۳۸۳ مخونه
۲۶_ کریمي تېزس. ۶۰ مخ
۲۷- خلیل، حنیف، پشتو زبان و ادب کے تاریخ ۳۸۴، مخ

۲۸-بختانی خدمتګار، عبدالله، یو دوه ګوتې کاغذ (مکتوبات خدمتګار)دویم ټوک، افغان مسلکي مطبعه کابل ۲۰۱۰ع،۶۷۹څخه۶۸۲مخونه